د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ګڼه: ۸ | مسلسل نمبر: ۵۱
شنبه، د ذوالقعدې ۲۴ مه، ۱۴۴۵ هـ. ق کال



د آبادۍ اوونيزه
هفته نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY

## د خواف - هرات اوسپني پټلۍ د څلورمې قطعې د دوهمې برخې جوړولو چارې عملاً پیل شوې



۲ مه صفحه

## بند پاشدان؛ گامی دیگر بسوی مدیریت آب



۲ مه صفحه

## د سوداګرۍ په پراختیا کې د نندارتونونو ارزښت ته کتنه




۳ مه صفحه



# سرلیکنه

د نندارتونونو د جوړېدو يوازينۍ موخه داده چې د يوه هېواد صنعتي توليدات او کرنيز محصولات خلکو ته معرفي شي. دغه راز د نندارتونونو په جوړولو سره موږ کولای شو، د خپلو صادراتو کچه لوړه او سوداګري مو پراخه کړو. په نړۍ کې ځينې هغه هېوادونه چې اوسمهال يې په نړيواله کچه ستر او مهم سوداګريز مرکزونه په ولکه کې دي، په اقتصادي ډګر کې د هغو دا ډول پرمختګ د همدې نندارتونونو او په نندارتونونو کې د خپلو توليداتو او محصولاتو نندارې ته د وړاندې کولو او خلکو ته د هغو د معرفي کولو په برکت دي.

د نړۍ زياتره حکومتونه هڅه کوي چې د خپلو محصولاتو له پاره په کور دننه او بهر د بازار موندلو په موخه نندارتونونه جوړ کړي. نندارتونونه د محصولاتو د معرفي کېدو ترڅنګ د سوداګرۍ د غوړېدو او ودې له پاره تر ټولو غوره لار ده او له دې لارې کولای شو پانګوال دې ته وهڅوو، چې په دې برخه کې پانګونه وکړي. کله چې د محصولاتو او صنعتي توليداتو په برخه کې پانګونه وشي، نو بيا له شک پرته چې د هېواد صادرات وده کوي او له دې سره د هېواد اقتصاد غښتلی کېږي. اسلامي امارت د نندارتونونو ارزښت ته په کتو د افغانستان د صنعتي توليداتو او کرنيزو محصولاتو د معرفي کېدو او هغو ته د بازارموندنې په موخه په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو لړۍ پيل کړې ده او په دې برخه کې يې ښې لاسته راوړنې درلودلې دي. ددې نندارتونونو له جملې څخه کولای شو د کابل نړيوال نندارتون، د امام ابوحنيفه رح دوهم ملي او نړيوال نندارتون، د قزاقستان په پلازمېنه آستانه کې د قزاق- افغان نړيوال نندارتون، په کابل کې د افغان - قزاق نړيوال نندارتون او دغه راز په قطر، ترکيه، ازبيکستان، ترکمنستان، چين، ماليزيا او متحده عربي اماراتو کې جوړ شوي نندارتونونه ياد کړو.

دا چې هر حکومت خپل ملت ته مسوول دی او خلک ترې د اقتصادي پرمختګ، خپلو صنعتي توليداتو او کرنيزو محصولاتو ته د بازار موندنې تمه لري، نو حکومت هم اړ دی چې په دې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي.

اسلامي امارت د هېواد د صنعتي توليداتو او کرنيزو محصولاتو له پاره په کور دننه او له هېواده بهر ددې توکو د معرفي کېدو له پاره نندارتونونه جوړ کړي دي او هڅه يې داده چې د سيمې او نړۍ په کچه خپلو دې محصولاتو ته مارکېټ پيدا، د صادراتو کچه لوړه او سوداګري پراخه کړي. موږ پورته د نمونې په ډول هغو نندارتونونو ته اشاره وکړه چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته په کور دننه او بهر کې جوړ شوي دي. دغه راز د اسلامي امارت له راتګ وروسته د صادراتو زياتوالی له هېواد څخه بهر د نندارتونونو جوړول او زموږ صنعتي او کرنيزو محصولاتو ته د بازار موندلو ښکارندويي کوي. هر څومره چې صادرات زياتوالی ومومي په هماغه اندازه به د صنعتي توليداتو او کرنيزو محصولاتو په برخه کې پرمختګ رامنځته او اقتصادي وده به ګړندۍ شي.

آبادي اوونیزه
هفته نامه آبادی
د اقتصادي او ټولنيزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY



# د خواف – هرات اوسپني پټلۍ د څلورمې قطعې د دوهمې برخې جوړولو چارې عملاً پیل شوې



د خواف- هرات اوسپني پټلۍ د څلورمې قطعې د دوهمې برخې جوړولو قرارداد د روان 1403 لمريز کال د حمل میاشتې په 9مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ټولګټو وزارت او ګاما ګروپ شرکت ترمنځ لاسلیک شو.

د خواف – هرات اوسپني پټلۍ د څلورمې قطعې دوهمه برخه 47 کیلومتره اوږدوالی لري، چې ټول لګښت یې شاوخوا 4 میلیارد افغانیو ته رسېږي. د دغه پروژې چارې به د شاوخوا دوه کلونو په جریان کې په معیاري ډول بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دا د خواف- هرات اوسپني پټلۍ لويې پروژې وروستۍ برخه ده، چې د هرات رباط پریان څخه پیل د دې ولایت هوايي ډګر او صنعتي ښارګوټي ته رسېږي. د دغه برخې په بشپړېدو سره به د خواف- هرات د سیمه‌ییز اتصال پروژه؛ افغانستان د ایران له مهمو سمندري بندرونو سره وصل کړي او د ترکیې هېواد د اوسپني پټلۍ شبکې له لارې به اروپا ته لار ومومي. پر دې سربېره به د افغانستان له خاورې په تېرېدو سره د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د سوداګریزې راکړې ورکړې د کچې لوړېدو لپاره هم زمینه برابره کړي.


د یادونې وړ ده چې د دغه پروژې په جوړېدو سره به په فراه، نیمروز، هلمند او کندهار ولایتونو کې د اوسپني پټلۍ شبکې غځولو ته زمینه برابره شي.

# بند پاشدان؛ گامی دیگر بسوی مدیریت آب




# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ؋۷۱,۱۰ | ؋۷۱,۱۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدار | ؋۲۴۶ | ؋۲۴۶ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۲۸ | ؋۱,۲۹ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۷,۱۹ | ؋۷۷,۲۴ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۷۹ | ؋۰,۷۹ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۵۲ | ؋۸۵۳ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۹۰,۲۹ | ؋۹۰,۳۶ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۹۵ | ؋۱۸,۹۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۳۶ | ؋۱۹,۳۷ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۸۲ | ؋۹,۸۲ |

هفته نامه آبادی
اوونیزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY



# د سوداګرۍ په پراختیا کې

## د نندارتونونو ارزښت ته کتنه

لیکوال: امان‌الله حنیفي

### سریزه

تبلیغات چې پخوا دومره اهمیت نه ورکول کېده، نن ورځ د سوداګرۍ او اقتصاد په نړۍ کې یوه تر ټولو مهمه اړتیا شمېرل کېږي، چې هېڅ بدیل نه لري. نن ورځ د سوداګرۍ پراخوالي لپاره تبلیغات یو مهم فکتور شمېرل کېږي او له ځان سره ډېرې ښې پایلې لري.

نننۍ پرمختللې ټکنالوژۍ او د اړیکو ټینګولو بې شمېره فرصتونو د تبلیغاتو مؤثریت څو برابره زیات کړی دی. د نننۍ ټکنالوژۍ او چټکو انټرنیټي خدمتونو پر مټ په ډېر کم وخت کې د یو مشخص ځای او جنس پوره معلومات د نړۍ له یو سر بل هغه ته رسېدلی شي، چې په هماغه وخت کې مشتري پیدا کوي.

هر کسب و کار خپل ځانګړی تبلیغاتي ډګر لري، چې د سوداګرۍ او صنعت د پرمختګ او ودې لپاره بیا نندارتون د تبلیغاتي میدان مخکښ بلل کېږي.

نن ورځ په نړۍ کې د هغو هېوادونو سوداګرۍ او صنعت چټک پرمختګ کړی دی، چې د خپلو تولیداتو او محصولاتو لپاره په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو له لارې تبلیغات کوي. د افغانستان اسلامي امارت هم د سوداګرۍ پراختیا، د کورني صنعت د پرمختګ او صادراتو زیاتوالي په موخه په هېواد کې دننه او بهر د نندارتونونو جوړولو لړۍ پیل کړې، چې تر ډېره یې پایله ښه ده. موږ په دغه مقاله کې په همدې اړه لنډې خبرې کوو.

### د نندارتون جوړولو ارزښت

د کورنیو او بهرنیو نندارتونونو جوړولو تر ټولو مهم او اساسي هدف د صادراتو پراختیا ده. د نندارتونونو ارزښت پېژندلو او د صادراتو په پراختیا کې د هغه د رول پېژندلو لپاره کولای شو په نننۍ نړۍ کې چین او جرمني هېوادونو ته د بېلګې په توګه یو نظر وکړو. چین، جرمني او تر څنګ یې امریکا د ټولې نړۍ مهم او




لوی سوداګریز مرکزونه په خپل کنټرول کې لري، داسې چې د نړۍ په کچه په صادراتو کې د دې درېیو واړو هېوادونو ونډه تر 30 سلنه زیاته اټکل کېږي .

په کور دننه د نندارتونونو جوړولو له لارې دغو درېیو واړو هېوادونو هدف شوو هېوادونو ته د خپلو صادراتو او وارداتو رسولو لپاره زمینه برابره کړې ده او دې چارې یې د سوداګرۍ کچې پر پراختیا ډېر زیات مثبت اغېز کړی دی. دغو هېوادونو په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو ته زیاته پاملرنه کړې او توانېدلي دي، چې له همدې لارې خپله سوداګري پراخه او اسانه کړي.

په کورنیو، بهرنیو او نړیوالو نندارتونونو کې د کسب او کار خلکو حضور په نننۍ نړۍ کې د سوداګریزو اړیکو ټینګولو یوه تر ټولو مهمه لار پېژندل کېږي. د نندراتون د جوړېدو پر مهال د سوداګریزو اړیکو د جوړېدو ټول فرصتونه یو ځای ته راټولېږي، ترسره شوې تجربې شریکېږي، د صنعت پرمختګ ته زمینه برابرېږي او په پایله کې سوداګریزې او اقتصادي شبکې رامنځته کېږي، چې دا د یو هېواد پر سوداګریزه وده مثبت اغېز کولای شي.

نندارتون د سوداګریزو اړیکو حقیقت په پوره معنی نندارې ته وړاندې کوي. نندارتون رسنۍ، تبلیغات، د خدمتونو وړاندې کولو اسانتیاوې او ایډیال شرایط وړاندې کوي او په ټوله کې داسې یوه فضا رامنځته کوي، چې د نننۍ نړۍ له سوداګریزو معیارونو سره همغږې وي.

په نننۍ نړۍ کې د هر نندارتون جوړېدل د نویو محصولاتو د معرفي کېدو، د صنعتي وړتیاوو ښکاره کولو او د صنعت د پرمختګ او مدیریت په برخه کې د نوښتونو په اظهارولو سره پای ته رسېږي. په نندارتون کې د صنعتي او محصولاتي توکو د معرفي کېدو په صورت کې د صادراتو لپاره نوي بازارونه موندل کېږي، همدې ټکي ته په کتو په نننۍ نړۍ کې د سوداګریزو اړیکو پراخولو، د مصرفي مارکېټونو ترلاسه کولو او په ټوله کې د یوې پراخې سوداګریزې شبکې رامنځته کول له نندارتونونو پرته ناممکن دي.

د نړۍ د سوداګریز مارکېټ راجلبولو لپاره موږ اړ یو چې خپلې صنعتي او سوداګریزې وړتیاوې د نندارتونونو له لارې نورو ته وښیو. د بېلګې په ډول، افغانستان د غالیو اوبدلو په برخه کې د نړۍ په کچه شهرت لري، چې د دغه صنعت تاریخ یې پېریو ته رسېږي . موږ کولای شو د کورنیو او بهرنیو نندارتونونو له لارې د دغه صنعت په برخه کې خپلې وړتیاوې نړۍ ته ښکاره کړو، دې

صنعت ته د هغوی توجو راجلــب کړو، پراختیا ورکړو او د غالیو نړیوالو مارکېټونو ته څو چنده زیات صادرات ولرو.

د افغانستان وچې او تازه میوې، طبي بوټي، کرنیز محصولات او پــه ځانګړې توګه د نړۍ په کچه نایابه کانونه هغه پوتانشــیل دی، چې د نندارتونونو له لارې ورته موږ نړیواله ســوداګرې او صنعت راجلبولی شو. د کانونو په برخه کې موږ د بېلګې په ډول د افغانســتان د لیتیمو او د قیمتي ډبرو پــه برخه کې زمردو ته اشاره کولی شــو. د افغانســتان لیتیم او زمرد په نړیواله کچه پلورونکي لري، چې د مناســبو فرصتونو په صورت کې به په ډېر لوړ قیمت نورو هېوادونو ته صادر شي او د دغو فرصتونو برابرېدو تر ټولو ښه آفشن بهرني او نړیوال نندارتونونه دي.

د کورنیو او بهرنیو نندارتونونو له لارې موږ کولای شو پرمختللي ســوداګریز شرکتونه سره یوځای کړو. د دغو شرکتونو د یو ځای کېدو په نتیجه کې په مختلفو برخو کې تجربې شریکېږي او په کــم وخت او عالي کیفیت سره د تولیــد ورتیا رامنځته کوي. د نندارتونونو له لارې موږ کولای شــو په مستقیم ډول د مختلفو کالیو، صنعتي تولیداتو او کرنیزو محصولاتو لپاره مشتریان پیدا کړو. له همدې لارې موږ کولای شــو خپل سوداګریز سیالان وپېژنــو، د هغوی د تولیداتو له کیفیت، ځانګړتیاوو، د انتقال له شرایطو، قیمتونو، له نــورو تولیداتو سره د هغوی د پرتلې او په توله کې د خپلو او نورو توکو د کیفیت، په هغه کې د نوښــت او همدارنګه د قوت او ضعف په اړه د مشتریانو نظرونه هم واخلو، چې دا چاره د سوداګرۍ پر پراختیا ځانګړی اغېز لري.

په مجموع کې ویلی شــو چې د ســوداګریز ډګر د پرمختګ په برخه کې د نندارتونونو ارزښــت خورا لــوړ دی او بله هېڅ لار یې ســیالي نشي کولئ. ځکه نندارتون هغه ځای دی چې تبلیغات، رسنۍ، ســوداګریزې اړیکې، مخامخ مشــتریان، د اقتصادي تــګلارو تبادله او د ســوداګریزې نړۍ ټول اســباب تر یو چتر لاندې راټولوي.

## د اســلامي امارت له لوري په کور دننه او بهر کې جوړ شوي نندارتونونه

همدې اهمیت ته په کتو د افغانســتان اسلامي امارت په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو لړۍ پیل کړې ده او غواړي له دې لارې د افغانســتان کرنیز محصــولات او تولیدي توکي نړۍ ته ور وپېژني. په همدې موخه یې په تېر 1402 لمریز کال کې په کور دننه او بهر یوشمېر نندارتونونه پرانیستل چې له ښو




لاسته راوړنو ډک وو.

د 1402 لمریز کال د ثور میاشــتې په 21مه نېټه په کابل کې د کابــل نړیــوال پنځه ورځنــی نندارتون د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د یوشــمېر نــورو لوړپوړو امارتي مســوولینو پــه حضور کې پرانیســتل شــو. په دغه نندارتون کې د 67 پر ځان بســیا ســکتورونو او د بیلابیلو صنعتي توکــو 450 غرفې نندارې ته ایښــودل شــوې وې، چې د کورنیو او بهرنیــو صنعتکارانو، سوداګرو او سیلانیانو له لوري یې تود هرکلی وشو . د کورنیو تولیداتــو د ملاتړ په خاطر دا لومړی ځل و چې په هېواد کې دغه ډول پراخ او بېســاری نندارتــون جوړېږي، چې خپله د ســوداګرۍ پراختیــا او صادراتــو زیاتېدو لپــاره د نندارتون ارزښت ته د اسلامي امارت د پاملرنې ښکارندويي کوي.

د 1402 لمریز کال د سرطان میاشــتې په 25مه نېټه د امام ابو حنیفه (رح) شــپږ ورځنۍ دوهم ملي او نړیوال نندارتون هم په کابل کې پرانیستل شو. په دغه نندارتون کې په 600 غرفو کې د مختلفــو کورنیو کرنیــزو او تولیداتي توکو سربېــره د افغان ســوداګرو په ګډون د ایران، ترکیې، ترکمنســتان او پاکستان سوداګرو هم خپل تولیدي توکي نندارې ته وړاندې کړل . د دغه نندراتون د پرانیســتې مراسمو ته د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال وویل، د امام ابو حنیفــه (رح) دوهم ملي او نړیوال نندارتون د اسلامي امارت په ملاتړ د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونــې خونې له لوري افغــان محصولاتــو او تولیداتو ته د بازارموندنې، د ملي پانګوالو د ملاتړ، د ملي او نړیوالو سوداګرو ترمنــځ د اړیکو برابرولــو او هېوادوالو ته د کورنیــو تولیداتو او محصولاتو د وروپېژندلو په موخه جوړ شوی، چې په سلګونو غرفو کې بېلا بېل کرنیز، ســاختماني، لاسي صنایع، طبي وســایل، درمل او نور مــلي محصولات او تولیدات نــدارې ته وړاندې شوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه نندارتون د پرانیستې پر مهال وویل، اســلامي امارت په خپل ټول تــوان د صنعت او کورنیو تولیداتو ملاتړ کوي او په همدې موخه یې له ټولو امارتي ادارو او هېوادوالو غوښــتي، چې د خریداریــو پر مهال کورنیو تولیداتو تــه لومړیتوب ورکــړي، څو په نــږدې راتلونکي کې افغانستان پر یو صادراتي هېواد بدل شي.

د ۱۴۰۲ لمریز کال د اســد میاشتې په ۱۵مه نېټه د افغانستان د صنعت او ســوداګرۍ وزارت او خصوصي ســکتور په هڅو له قزاقي لوري سره تر ښــې همغږۍ وروســته د قزاقســتان په پلازمېنه اســتانه کې د قــزاق - افغان نړیــوال نندارتون هم پرانیســتل شــو. په دغه نندارتون کې د افغانستان د خصوصي سکتور د څوارلسو برخو ۳۵۰ استازو ګډون کړی و او په 70 غرفو کې یې خپــل محصولات او تولیدات د ډېرو ورځو لپاره نندارې ته ایښي وو، چې ښه هرکلی یې وشو. د دغه نندارتون پر مهال قزاقي ســوداګرو او صنعت‌کارانو د افغــاني توکو راښیلو ته ډېره لېوالتیا ښودلې او په مختلفو برخو کې یې د ۱۹۰ میلیون ډالرو په ارزښــت له افغان سوداګرو سره مختلف تړونونه لاسلیک کړل .

افغان چارواکو او د خصوصي ســکتور استازو دغه نندارتون له لاسته راوړنو ډک وباله او په خبره یې، د ترانسپورټ، ترانزیټ، د

دواړو لورو د پانګونې او سوداګرۍ اسانتیاوو او پر بانکي موضوعاتو یې له قزاقي لوري سره بحثونه درلودل، چې د هوکړه لیکونو په تطبیق سره به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچه زیاته شي.

همدا راز د ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په 6مه نېټه په کابل کې د افغان – قزاق دوه ورځنی نندارتون پرانیستل شو. په دغه نندارتون کې ۸۰ شرکتونو چې ۴۰ یې افغاني او ۴۰ نور یې قزاقي وو؛ ګډون کړی و چې قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې، خوراکي او غیر خوراکي توکي، لاسي صنایع، غالۍ او د دواړو هېوادونو نور تولیدات او محصولات پکې نندارې ته وړاندې شوي وو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه نندارتون پرانیستغونډې ته وویل، د دواړو هېوادونو د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو په پراختیا کې د دغه شان نندارتونونو ډېر مهم دي او په خبره یې، د داسې نندارتونونو د جوړولو موخه د افغانستان او قزاقستان خلکو ته د دغو هېوادونو د محصولاتو او تولیداتو ورپېژندل دي .

دغه نندارتون د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اړیکو د پراختیا او لا ښه کېدو، په سیمه ییزه کچه د اقتصادي انزوا له منځه وړلو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د ودې او پراختیا په موخه جوړ شوی و. په دغه نندارتون کې د کرنې، کانونو، سوداګرۍ، بانکي، ټکنالوژۍ او مخابراتو په ګډون د 13 سکټورونو شاوخوا ۸۰ شرکتونو ګډون کړی و او خپل تولیدات او محصولات یې نندارې ته ایښي وو. په یاد نندارتون کې د ګډون کوونکو شرکتونو لپاره د بي ټو بي ناستو لپاره د زمینې برابرول هم شامل وو، چې په ترځ کې یې د شرکتونو استازو ترمنځ ځینې هوکړې هم وشوې .



پر دې سربېره د سوداګرۍ کچې زیاتېدو او اقتصادي ودې د پیاوړتیا په موخه په قطر، چین، ایران، مالیزیا، هند او یوشمېر نورو هېوادونو او په کور دننه په مختلفو ولایتونو کې د اسلامي امارت له لوري د کورني صنعت د ملاتړ په موخه نندارتونونه جوړ شوي، چې له ډېرو لاسته راوړنو ډک وو. ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکې کې به د چین، روسیې او ازبیکستان په کوربه توب په یادو هېوادونو کې نندارتونونه جوړ شي، چې لسګونه افغاني تولیدات او محصولات به پکې نندارې ته وړاندې شي.

## پایله

د سوداګرۍ کچې زیاتېدو په موخه د افغانستان اسلامي امارت په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو ته ځانګړې پاملرنه کړې، چې تر دې مهاله یې په هېواد کې دننه او بهر په مهمو او لویو نندارتونونو کې افغاني توکي او محصولات نندارې ته وړاندې کړې دي، چې له نېکه‌مرغه تود هرکلی یې شوی دی. یادو نندارتونونو پر سوداګرۍ او ځانګړې توګه د صادراتو پر زیاتوالي خورا مثبت اغېز کړی دی، چې د پخوا په پرتله بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان صادرات زیات شوي. ګاونډیو د سیمې او نړۍ هېوادونو ته همدغو نندارتونونو له لارې د افغاني توکو او محصولاتو واردولو ته لېوالتیا ښودلې او په دغه برخه کې یې له اسلامي امارت سره یوشمېر هوکړه لیکونه هم لاسلیک کړي، چې په تطبیق سره به یې د افغانستان صادرات لا زیات شي. افغان صنعتکاران او سوداګر له اسلامي امارت خوشاله دي، چې ملاتړ یې کوي او دوی د ملاتړ په خاطر نندارتونونه جوړوي، چې د همدې نندارتونونو له لارې یې مختلفې تجربې ترلاسه کړې دي او د خپلو ورتیاوو لوړولو په موخه یې د بهرنیو شرکتونو همکاري ترلاسه کړې ده. دوی خوشاله دي چې اوسمهال یې تولیدات په وخت او ښه بیه په کورنیو او بهرنیو بازارونو کې پلورل کېږي، چې دې چارې یې پر کار او ژوند مثبت اغېز کړی دی.

